مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۸۱** (از ۱۱ الی ۱۸ اسد ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## په دې ګڼه کې:


- مقدمه ........ ۳

## پېچلې استخباراتي جګړه او وروستۍ پېښې

- په نيابتي جګړه کې د بهرنيو کړيو رول ........ ۴
- تبليغاتي جګړه او مرموز بريدونه ........ ۵
- د زندانيانو د خوشي کېدو په تړاو روانه لوبه ........ ٦
- د روانو دسيسو پر وړاندې د حامد کرزي دريځ ........ ۷




## بازهم جنایت امریکا و اسرائیل در غزه


- انگیزۀ اسرائیل در مورد کشتار فلسطینی‌ها ........................................................ ۸
- چگونگی و سابقۀ جنایات اسرائیل در غزه ............................................................ ۹
- فرصتی برای پایان یافتن محاصرۀ غزه ............................................................ ۱۰
- واکنش افغان‌ها ............................................................................... ۱۰








## مقدمه

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې، د هېواد په ځینې سیمو کې د وروستیو مرموزو بریدونو تر شا د بهرنیو کړیو د رول او همدا راز په منځني ختیځ کې پر غزه د اسرائیلو د جنایتکارانه بریدونو د انګېزې، مخینې او راتلونکو فرصتونو په تړاو، د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز، د اوونۍ تحلیل د بورډ شنني لولئ.

کابو ۱۳ کاله وړاندې په افغانستان کې د امریکایي او نړیوالو ځواکونو له خوا د طالبانو د رېژیم له راپرځېدو او د بن تر کنفرانس وروسته، له ځینې افغانانو سره داسې هیلې راوټوکېدې، چې ګنې په افغانستان کې به د څو لسیزو روانو ناخوالو ته د پای ټکی کېښودل شي؛ خو له بده مرغه چې هېواد ته د بهرنیو ځواکونو راتګ هم د پخوانیو استخباراتي لوبو په دوام یو بل ګام ثابت شو او په تېره څه باندې یوه لسیزه کې د افغانستان د سر سړي په یوه او بل نامه یو پر بل پسې ووژل شول او داسې بریدونه وشول، چې د پردې تر شا یې استخباراتي اهداف درلودل او دا بریدونه او استخباراتي لوبه لاهم روانه ده. د دغې لوبې په تړاو په ملي او نړیواله کچه چوپتیا د دغې لوبې د ژوروالي ښکارندویي کوي او د لازیاتو ورانیو لامل شوې ده. دغه لوبه چا روانه کړې؟ او ولې یې د اصلي لورو د افشا کېدو او مخنیوي مخه ډب ده؟

د سیمې په کچه هم په منځني ختیځ کې د روانو ناخوالو او ناارامیو په دوام کې، یو ځل بیا هم اسرائیلو پر غزه بې رحمانه بریدونه وکړل او بشري ناورین یې رامنځته کړ. د دغو بریدونو او جنایاتو تر شا د لوېدیځ او په سیمه کې د لوېدیځ د ځینې لاسپوڅو رېژیمونو پراخې، مستقیمې او غیرمستقیمې مرستې هم موجودې وې؛ خو بیا هم دا ځل د حماس جنګیالیو اسرائیلو ته د تېر په پرتله، غاښ ماتوونکی ځواب ورکړ. پر غزه او فلسطینیانو د اسرائیلو د پخوانیو او اوسنیو بریدونو اصلي انګېزې څه دي؟ او همدا راز په راتلونکي کې د کومو ګامونو د اوچتولو اړتیا ده؟ چې د دغو موضوعاتو ملي او نړیوال اهمیت ته په کتو سره، په دې اړوند د بېلابېلو اړخونو د شنني او ارزونې اړتیا ته، یا خو تر ډېره بریده پام نه دی شوی او یا هم له پامه غورځول شوې ده.

## پېچلې استخباراتي جګړه او وروستۍ پېښې



له ۲۰۰۱ میلادي کال راپه دېخوا، کله چې امریکایي او نړیوالو ځواکونو پر افغانستان یرغل وکړ، په منظم ډول د هېواد په بېلابېلو سیمو کې داسې بریدونه وخت ناوخت وشول، چې نه یې له نړیوالو ځواکونو او له افغان حکومت سره د جګړې پر ډګر ولاړو وسله والو ډلو مسوولیت منلی او نه یې هم تر نن ورځې پورې اصلي لوری چا ته معلوم شوی دی.

په دغو بریدونو کې معمولاً په خورا ماهرانه توګه داسې اهداف په نښه کېږي، چې په څرګند ډول د پردې تر شا د پېچلې استخباراتي جګړې ښکارندويي کوي. د دغو بریدونو له ډول او هغو اهدافو څخه، چې په دغو پلان شوو بریدونو کې په نښه کېږي، له ورایه څرګنده ده چې په تېرو ۱۳ کلونو کې د یوه منظم پلان له مخې ترسره شوي دي.

دا وضعیت تر ډېره پر عراق د امریکا تر یرغل وروسته، ترسره شوو بریدونو او په هغه هېواد کې رامنځته شوي وضعیت سره ورته والی لري، چې له هغه هېواد څخه د امریکایي ځواکونو تر وتلو وروسته یې اهداف په ځینې افشاګریو کې څرګند شول.

### په نیابتي جګړه کې د بهرنیو کړیو رول

د افغانستان په روانه جګړه کې بېلابېلې ډلې په بېلابېلو لورو پورې تړلې دي؛ خو عمومي افکار یوازې پر طالبانو مصروف ساتل شوي دي. د لوېدیځ استخباراتي کړۍ د بلک واټر تر چتر لاندې بریدونه کوي او په روانه جګړه کې خپل اهداف تعقیبوي؛ ډېرې پېښې د دې ښکارندويي کوي، چې د لوېدیځ استخباراتي شبکې په دغو جګړو کې خپلې وسله والې ډلې هم لري او له نورو ډلو هم کار اخلي.

په دغه نیابتي جګړه کې ځینې کړۍ له یو بل سره تړلې دي. نن که "د امریکا ستراتېژیک ملګری" پاکستان له افغان حکومت څخه عجیبې او غریبې غوښتنې لري او افغانستان ته د ځمکني او هوایي برید ګواښونه کوي هم، د خپلو لوېدیزوالو ملګرو په اشاره یې کوي او په لوبه کې د څو اړخونو د ښکېلتیا ښکارندوی دي. له پاکستان سره په سرحدي سیمو کې د پاکستان د ځینې نورو خوځښتونو ترځنګ، د افغانستان پر ختیزو سیمو زرګونه توغندیز بریدونه او پر وړاندې یې د نړیوالو او په افغانستان کې د مېشتو لوېدیزوالو چوپتیا هم هغه څه دي، چې افغانان یې هم د دې لوبې پر ځینې اړخونو پوه کړي دي.

د پاکستان ترڅنګ نور هېوادونه هم په ژور ډول په دې جګړه کې ښکېل دي. روسیه، ایران او امریکا د نشه یي توکو په موضوع زور ازمایي کوي او په افغانستان کې یې خپله سیاسي لوبه پوره توده ساتلې ده. بلخوا چین هم دلته بې طرفه نه دی پاتې شوی او په بېلابېلو لارو خپل اهداف تعقیبوي؛ خو امریکا او لوېدیزوال بیا "د کرزي خبره" غله ته وایي، غلا وکړه او د کور څښتن ته وایي، بیدار شه! او د نورو سیاستونو ترڅنګ یې تر ډېره له دې لوبې هم کار اخیستی دی؛ چې په دې وروستیو کې په هرات کې د قومي شخړو په څېر پېښنو وېره په راتلونکي کې د ټول هېواد په کچه شته ده.

## تبلیغاتي جګړه او مرموز بریدونه

تېرې دوې میاشتې هم د افغان ولس لپاره سختې خونړۍ میاشتې وې. په ارګون کې د یوې درنې چاودنې له کبله تر سلو زیاتو کسانو ته د مرګ ژوبلې اوښتل او بیا ترې وروسته په غور ولایت کې د ۱۵ تنو عامو افغانانو وژل یې وروستۍ بېلګې دي، چې نه یوازې هېڅ لوري یې مسؤولیت هم نه دی منلی؛ بلکې د دولت وسله والو مخالفینو هم ځینې وختونه دارنګه بریدونه غندلي دي. دا بریدونه څوک کوي او د کومو اهداف لپاره دي؟ ولې یې د اصلي لوري د موندلو، افشا کولو او مخنیوي لپاره ګام نه اوچتېږي؟

افغانان له تېرو ۱۳ کلونو راهیسې د ډېرو داسې بریدونو قرباني دي، چې بهرنۍ استخباراتي کړۍ یې د خپلو سیاسي لوبو د پر مخ بېولو لپاره ترسره کوي او د غربي رسنیو او په هېواد کې دننه په دوی پورې اړوندو رسنیو او کړیو له لارې یې په اړه سرچپه تبلیغات کوي.

په افغانستان کې دا مهال تر ټولو ستره ستونزه دا ده، چې د عمومي افکارو مدیریت لوېدیزوالو په لاس کې اخیستی او ټولې توطئې او استخباراتي کړنې داسې اداره کوي، چې تر شا یې پراته اهداف ملت ته بل ډول ښکاري. که څه هم د دغه راز پېښنو په اړه بېلابېل تحلیلونه شته دي؛ خو په ټولیز ډول له قرباني کېدونکو ملتونو د پېښنو عوامل او اهداف پټ دي؛ حتی تر دې چې د دغه راز پېښنو د اهدافو او عواملو په اړه لږترلږه معلومات هم نه خپرېږي.

په تېرو کلونو کې د ډېرى بريدونو او پېښو له څرنګوالي معلومه شوه، چې د استخباراتي کړيو بريدونه پر داسې اهدافو ترسره کېږي، چې غبرګونونه راپاروي او تبليغاتي ګټه ترې پورته کېږي. د دغې جګړې او دغو بريدونو ډول، د نورې نړۍ خلاف، داسې دی چې وړونکی لوری يې معلوم نه دی او له ورايه څرګنده ده، چې هدف يې د پردې تر شا دی.

### د زندانيانو د خوشي کېدو په تړاو روانه لوبه

په غور کې څو ورځې مخکې د مسافرينو د سپرلۍ له موټر څخه ګڼ کسان ښکته کړل شول او بيا يې له ډلې څخه په يوه قوم پورې تړلي کسان په مخامخ ډزو سره ووژل شول. دې پېښې که له يوې خوا د قومي شخړو موضوع ته د لمن وهلو په څېر استخباراتي موخې تر شا درلودې، له بلې خوا يې د ولسمشر کرزي له خوا د امريکايي ځواکونو له خوا نيول شوو زندانيانو د خوشي کولو په تړاو، د بهرنيانو د استخباراتي کړنو او فشارونو هدف هم له ځان سره درلود.

ولسمشر حامد کرزي د خپلې واکمنۍ په وروستيو کلونو کې د امريکايي ځواکونو له خوا د زرګونه بې ګناه نيول شوو افغانانو د بېرته خوشي کولو هلې ځلې وکړې. ښاغلي کرزي د لومړي ځل لپاره تېر کال په يوه خبري غونډه کې د بګرام زندان د طالب جوړونې فابريکه وبلله. د ولسمشر دا دريځ که څه هم د ځينې افغانانو له خوا تر نيوکو لاندې و؛ خو دا چې کرزی له امريکايانو سره تر يوې لسيزې زيات وخت نژدې پاتې شوی، د هېواد لپاره يې د لوېديزوالو پلانونه او توطئې ښې درک کړې دي او وخت ناوخت يې مستقيمې او غيرمستقيمې اشارې هم ورته کړې دي.

دا چې ولسمشر کرزي په وروستيو کلونو کې د لوېديزوالو ځينې افغان ضد پلانونو پر وړاندې دريځ نيولی، هغوی هم له رسنيو نيولې تر دا ډول بريدونو پورې خپلې ټولې وسيلې په کار اچولې دي. له وروستيو پېښو ښکاري، چې هرکله دارنګه بريدونه کېږي، ترې وروسته يو شمېر رسنۍ چې د بهرنيو کړيو له خوا تمويلېږي او په بهرنيانو پورې ځينې نورې تړلې کړۍ، په منظم ډول موضوع ته بېل رنګ ورکوي او په اړه تر خپله وسه تبليغات کوي.

وروستۍ پېښې هم د کرزي پر هغه اقدام پورې وتړل شوې، چې له مخې يې يو شمېر هغه زندانيان خوشي شول، چې په اړه يې هېڅ ډول اسناد هم موجود نه وو، د امريکايي ځواکونو له خوا د خپلو اهدافو لپاره په چاپو کې نيول شوي وو او کلونه کلونه يې له محکمې او د جرم له څرګندوالي پرته په بند کې تېر کړي وو.

لومړی خو دا چې که دا تبليغات استخباراتي اړخ نه لري، ايا يوازې هماغه د ګوتو په شمېر خوشي شوي زندانيان د دغسې بريدونو توان لري؟ او له بند څخه له خوشي کېدو سملاسي وروسته دومره توان پيدا کوي،

چې دارنګه پېچلي او ورانوونکي بریدونه وکړي؟ په خوشي شوو زندانیانو کې که د دولت وسله وال مخالفین هم خوشي شوي وي، لومړی خو به ډېره ګرانه وي چې د جګړې ډګر ته ولاړ شي؛ خو که د جګړې ډګر ته هم تللي وي، ایا له دغو خوشي شوو زندانیانو پرته نور وسله وال مخالفین په هېواد کې کم دي او دارنګه بریدونه نه شي کولی؟

که د دغو زندانیانو خوشي کول، هومره خطرناک ګام و؛ بیا ولې امریکا د خپلو مخالفینو تر ټولو مهم زندانیان له ګوانتامو زندانه خوشي کړل؟ حقیقت دا دی، چې ګوانتامو زندان ته د مهمو بندیانو وړل او بیا خوشي کول هم، د دغې لوبې مهمه برخه ده او په بېلابېلو وختونو کې یې د خپلو اهدافو لپاره کار ترې اخېستی دی. په بګرام زندان کې بندي افغانان هم د دې لپاره نیول شوي وو، چې په روانه لوبه کې کار ترې واخلي؛ او د عامو افغانانو نیول، بندیانول او د کرکو راپارول هم د دې لوبې یوه برخه وه، چې بهرنیو ځواکونو د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره عملي کړه.

## د روانو دسیسو پر وړاندې د حامد کرزي دریځ

حامد کرزی که څه هم د امریکا له لوري واک ته رسول شوی او په تېرو کلونو کې څرګنده شوه، چې د بهرنیو د توطئو پر مټ تر ډېره بې واکه شوی هم و؛ مګر وخت ناوخت یې افغان ولس په خپلو ویناوو کې په دې پوهولی، چې د بهرنیانو د توطیو پر وړاندې بیدار شي. که څه هم د واک له مودې وروسته، د سیمې لپاره د بهرنیو کړیو د اهدافو پر وړاندې د خنډ کېدو له امله، ښاغلي کرزي ته بېلابېل ګواښونه هم متوجه دي.

له بلې خوا ښاغلی کرزی خپله هم د دغو توطیو ښکار دی او د نورو وړپېښو ستونزو ترڅنګ یې، په تېرو کلونو کې یې د کورنۍ غړي او نژدې کسان هم له لاسه ورکړي دي؛ مګر هغه اوس په دې پوهېدلی چې لوبه چا روانه کړې او څه روان دي؛ له همدې امله یې د بهرنیانو د ځینې کړنو پر وړاندې مخالف دریځ هم نیولی دی.

کرزي له نړیوالې ټولنې سره ۱۳ کاله نژدې او په معاملو کې ښکېل پاتې شوی او همدومره موده یې پر افغانستان واکمني کړې ده؛ ځکه نو هغه اوس د هېواد د سیاسي وضعیت او په هېواد کې روانې سیاسي لوبې لومړۍ درجه پوه شخصیت بلل کېدای شي. دومره هم ساده نه ده، چې د څو تنو "سیاسي شنونکو" په وینا، د زندانیانو په اړه یې فرمان د شخصي ګټو له مخې وي او تر ولسمشر دوی پر روانه سیاسي لوبه ښه پوهېږي!

# بازهم جنایت امریکا و اسرائیل در غزه



## انگیزۀ اسرائیل در مورد کشتار فلسطینی‌ها

غزه بار دیگر به خون فرزندان فلسطین رنگین شد! غزه بار دیگر شاهد جنایات نابخشودنی صهیونیست‌ها بود و مقاومت کرد. در نتیجۀ حدود سه هفته مقاومت، بیش از ۱۸۰۰ تن از مردم بی‌دفاع غیرنظامی شهید و هزاران تن مجروح شدند و بخش بزرگی از این شهر در برابر نگاه‌های بی‌تفاوت مدعیان دروغین حقوق بشر و رژیم‌های مزدور در جهان اسلام، به خاک یکسان شد. صهیونیست‌ها بصورت قصدی تلاش کردند تا آنجا که در توان شان بود اطفال را بکشند، زیرا در تورات جعلی و ساختۀ دست آنان آمده است:

«خداوند می‌فرماید: چون فلسطینی‌ها از مردم یهود انتقام گرفته‌اند و از آنها کینۀ دیرینه در به دل داشته‌اند، در صدد بودند تا آنها را نابود کنند، پس من با دست خود فلسطینی‌ها را نابود می‌کنم. بلی تمام کسانی را که در سرزمین فلسطین زندگی می‌کنند به کلی از بین می‌برم» حزقیال باب ۲۵

بر بنیاد همین تعالیم جعلی است که از ده‌ها سال بدین‌سو کشتار فلسطینی‌ها از طرف اسرائیل بعنوان یک دستور آسمانی و مقدس پی گرفته شده است. بن گوریون گفته بود:

«فلسطینی‌ها باید باز نگردند... پیران خواهند مرد و جوانان فراموش خواهند کرد».

موشه دایان گفته بود: «چیزی بنام فلسطین وجود ندارد. آنان هرگز وجود نداشته‌اند».

و اوباما در جواب کشتار اطفال فلسطینی می‌گوید: «اسرائیل حق دارد از خود دفاع کند!».

امروز رسانه‌های غرب بشکل کاملاً حساب شده در تلاش اند، تا مسلمانان را بنیادگرا و تندرو که در صدد نابودی غیرمسلمانان بخصوص یهودیان اند، به جهان معرفی نمایند؛ اما بر این حقیقت چشم می‌پوشند که در اسرائیل چه می‌گذرد؛ در اسرائیل اطفال از شش سالگی تورات می‌آموزند و به آنان تلقین می‌شود که این «سرزمین» از «رود مصر تا شط عظیم

یعنی نهر فرات امتداد می‌یابد». این تعالیم هم متضمن فکر «اسرائیل بزرگ» وهم توجیه تصرف وضبط اراضی اعراب در حال و در آینده است که کشتار و بیرون راندن مردم فلسطین از سرزمین‌های شان، بخش جدا ناپذیر از این برنامه است.

## چگونگی و سابقهٔ جنایات اسرائیل در غزه

این بار نخست نیست که اسرائیل به غزه یورش آورده است؛ نزدیک‌ترین حمله به غزه از نظر زمانی، چند سال قبل صورت گرفت. اسرائیل در سال ۲۰۰۸ میلادی نوار غزه را مورد حمله قرار داده بود که فلسطینی‌ها آن واقعه را «مجزرة الغزة» یا کشتار غزه نامیدند. آن جنگ که اسرائیل آنرا عملیات «سرب گداخته» نامید مدت سه هفته از دسامبر ۲۰۰۸ تا جنوری ۲۰۰۹ دوام کرد و در طی آن جنایتکاران صهیونیست، در کنار کشتار مردم غیرنظامی که بیشترین قربانیان بعد از جنگ سال ۱۹۴۷ اعراب و اسرائیل در یک روز بود، ویرانی‌های زیاد بر نوار غزه وارد کردند و سپس آتش بس یکجانبه اعلام نمودند؛ اما تمام گذرگاه‌ها به نوار غزه بسته است و حتی انتقال مواد ساختمانی را به غزه ممنوع قرار داده شده، تا ویرانی‌ها بازسازی نشود و مردمی که بی‌سرپناه شده‌اند، به کوچ اجباری از غزه مجبور شوند.

در آن جنگ اسرائیل از جنگ افزارهای ممنوعه از جمله سلاح‌های حاوی فسفر سفید استفاده کرد و در ساعات اولیهٔ این حمله حدود یکصد تن بمب و موشک از جانب اسرئیل به غزه فرو ریخته شد. این درحالیست که غزه از نظر تجمع جمیعت در یک کیلومتر مربع، یکی از پرجمیعت ترین مناطق جهان است ودر جنگ اخیر نیز همین کار را انجام داد.

در آن زمان سازمان ملل متحد اسرائیل را به نقض گستردهٔ حقوق بشر متهم کرد. هرچند گزارش سازمان ملل متحد که به گزارش گلدستون هم مشهور است و توسط شخصی خود یهودی است ترتیب شد و اسرائیل را مقصر بخش بزرگی از نقض حقوق بشر دانست، اما این محکومیت روی کاغذ هیچ نفعی برای مردم غزه نداشت. غزه همچنان در محاصرهٔ اسرائیل است و مردم تحت تعزیرات شدید اقتصادی قرار دارند. یگانه راهی که از آن می‌توانستند مقداری مواد وارد نواز غزه نمایند، از طریق تونل‌هایی از خاک مصر بود که بعد از بقدرت رسیدن سیسی در مصر، با همکاری مشترک حکومت مصر واسرائیل، این تونل‌ها نیز ویران شد.

اگر جنایات صهیونیست‌ها علیه غزه در تجاوز سال ۲۰۰۸ آنان به پیگیری بین الملی مواجه می‌شد، اگر رژیم‌های دست نشانده در جهان اسلام کمی بخود می‌آمدند و علیه اسرائیل و حامیانش موضع مخالف می‌گرفتند، اسرائیل جرئت نمی‌کرد تا بار دیگر به غزه حمله کند و بازهم مردم غیرنظامی را بکشد، اما چنین نشد. اوباما می‌گوید که اسرائیل حق دفاع از خود را دارد! یعنی اسرائیل حق دارد بنام دفاع از خود اطفال و غیرنظامیان را بکشد!

## فرصتی برای پایان یافتن محاصرهٔ غزه

اما حماس هم با مقاومت و استوار قامتی در این جنگ، از فرصتی که بدست آورده و فشاری که بر اسرائیل وارد آمده است، می‌تواند استفاده نماید. نوار غزه سال‌هاست که تحت محاصرهٔ رژیم صهیونیستی قرار دارد و حتی ارسال مواد ساختمانی به این منطقه با محدودیت‌های شدید از جانب اسرائیل مواجه است. محاصرهٔ غزه در طول سالهای گذشته را وجدان‌های بیدار به (نسل کشی خاموش) تعبیر کرده‌اند. اکنون که اسرائیل از دست یابی به اهداف خویش ناکام مانده و نیز با کشتار مردمان غیرنظامی غزه، زیر فشار افکار عمومی در جهان قرار گرفته است و از قدرتی بالاتر از آنچه که تاکنون علیه مردم غزه بکار گرفته است نمی‌تواند استفاده کند، حماس می‌تواند رفع محاصرهٔ غزه را بعنوان پیش شرط آتش بس مطرح سازد و اگر چنین شود می‌توان گفت که اسرائیل در جنگ غزه به شکستی خفت بار مواجه شده است.

اگر اسرائیل حق دفاع از خود را دارد، مردم نوار غزه هم حق دارند تا از زندان بزرگی که اسرائیل ومصر بر آنان تحمیل کرده است بیرون بیایند. باید کشورهای اسلامی قاطعانه از این خواست مشروع و انسانی مردم غزه حمایت نمایند و غزه از محاصره نجات یابد.

## واکنش افغان‌ها

صدای اعتراض وجدان‌های بیدار در سراسر جهان علیه اسرائیل بلند شد، اما در افغانستان اعتراضات مدنی گسترده نبود بلکه یک سرباز افغان با کشتن یک جنرال امریکایی و مجروح نمودن تعدادی دیگر از نظامیان خارجی، به این جنایات اسرائیل، پاسخی خشونت آمیز داد. این واقعه به روشنی نشان می‌دهد که تجاوز و ظلم به از میان بردن خشونت کمکی نمی‌کند و بی‌اعتنایی به ریخته شدن خون مسلمانان می‌تواند به ترویج خشونت حتی در میان مردمانی بیانجامد که امریکا از آنان امید دوستی دارد. پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: 784089590 (93+)